عمومي مجمع
د امنيت شورا
وېش: عمومي
سپتمبر لومړۍ، ۲۰۱۵
اصلي متن: انګرېزي

**عمومي مجمع** **د امنيت شورا**

**۷۰ يمه ناسته** **۷۲ يم کال**

د مؤقت اجنډا ۳۹ شمېره موضوع*

**وضعيت په افغانستان کې**

**په افغانستان کې وضعيت او پر نړيوال سوله او امنيت باندي د هغه پايلې**

**د عمومي منشي راپور**

## I. مقدمه

۱. اوسنۍ راپور د عمومي مجمعې د ۶۸/۱۱ شمېر قطعنامې او د امنيت د شورا د ۲۲۱۰ شمېر قطعنامې (۲۰۱۵) پر بنسټ، چې د هغه په لړ کې زما څخه غوښتل شوي وو چې د هرې دري مياشتو په موده کې په افغانستان کې د بدلونونو په اړوند راپور تقديم کړم، وړاندي کيږي.

۲. دغه راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د بشري، پرمختياېي مرستو او د بشري حقونو د سترو هڅو په ګډون، زما د پخواني راپور د مودې را پدېخوا چې د ۲۰۱۵ کال د جون د مياشتې په ۱۰ نېټه (A/69/929-S/2015/422) کې صادر شوی وو، تازه معلومات وړاندي کوي. په همدې ډول راپور د کليدي سياسې او امنيتې پرمختګونو لنډيز او د افغانستان په اړوند سيمه ييز او نړيوال پېښې رابرسيره کوي.

## II. اړوند پرمختګونه

۳. د راپور ورکولو په موده کې، د ممکنې سولې او مصالحې د بهیر د ملاتړ لپاره، په ځانګړي ډول د طالبانو او د افغانستان د حکومت تر منځ د مامخ خبرو امکان کې مثبت پرمختګ رامنځته شوی، چې په پای کې، د طالبانو د مشر ملا محمد عمر د مړینې د اعلان څخه وروسته، د مخ پر زیاتیدونکې ناباوریو لړ ته د وتلو لاره خلاصه کړه. د ټاکنو د سمون ځانګړي کمېسیون خپل کار پیل او د سپارښتنو لومړنۍ بسته یې ولسمشر اشرف غني او اجرائیه رئیس عبدالله عبدالله ته وړاندي کړي، په داسې حال کې چې حکومت اضافي هڅې هم تر سره کړي تر څو د خپل اقتصادي سمون اجنډا نوره هم پراخ او د لوړپوړو چارواکو د انتصاب لړ بشپړ کړي. که څه هم افغانستان په پرله پسې ډول په سیاسي، امنیتي او اقتصاد-ټولنیز سکتورونو کې د یو بل سره تړلې ننګونو سره مخامخ دی، چې وګړي او د هیواد ټولنیز پیوستون یې د ګواښونو سره مخامخ کړي. دوامداره جګړه، کوم چې د شدت او جغرافي له نظره پراخ شوي، په پرله پسې توګه د ملکي افغانانو تر منځ د سترو تلفاتو او بیځایکیدو سبب شوي، په داسې حال کې چې افغان ملی امنیتي ځواکونه هڅه کوي چې د بلواګرو ډلو د هڅو سره مبارزه وکړي چې غواړي حکومت کمزوری کړي.

**الف. سیاسي پرمختګونه**

۴. د سولې د ملاتړ لپاره د یو مثبت بدلون په ډول، د افغانستان د حکومت او د طالبانو استازي خپل لومړنۍ او مخامخ ناسته یې د جولاي په ۷ نېټه د پاکستان په مري ښار کې تر سره کړ چې د پاکستان د حکومت له خوا تسهیل شوي وو. د چین او د امریکې د متحده ایالاتو استازي په ناسته کې د کتونکو په ډول حضور درلودل. د افغانستان حکومت او د طالبانو پلاوي د سولې او مصالحې په اړوند مسایلو باندي بحث وکړ و دا یې ومنل چې د پروسې د دوام د برخې په ډول بیا به یو بل سره وینې. د مري د ناستې څخه وروسته د افغانستان د حکومت او طالبانو د استازو تر منځ یو لړ غیررسمي ناستې د مې او جون د میاشتو په دوران په نورو هیوادونو کې تر سره شوي. د مري خبرو په پراخ ډول ستایل شوي که څه هم د افغان ځینې سیاسي برخوال غبرګون زیات مدافعوي وو خو د طالبانو د استازو د موخو او دا چې د دوي ظرفیت به د ټول تحریک استازیتوب کوي او که نه، په اړوند اندیښنې څرګندې کړي. کومه اعلامیه چې وروسته لدې د طالبانو لخوا د ؛ملا محمد عمر په نامه؛ د جون د میاشتې په ۱۵ نېټه خپور شو او پدې ټینګار درلود چې؛ په اسلام کې سیاسي هڅې او سوله ییز لاري مشروع دي؛ په دغه وخت کې د سولې د پروسې په اړوند د دغه تحریک نرم موقف انګیرل شوي.

۵. که څه هم د افغانستان حکومت د جولاي د میاشتې په ۲۹ نېټه رسماً اعلان وکړ چې د طالبانو مشر ملا محمد عمر د ۲۰۱۳ کال د اپریل په میاشت په پاکستان کې مشر شوي، سبا روځ د طالبانو استازي، پرته لدې چې نور زیات معلومات ورکړي، د ملا محمد عمر مړینه یې د ناروغۍ له امله تایید او د ملا محمد عمر مرستیال، ملا اختر محمد منصور د ۲۰۱۰ کال راهیسې د هغه د ځاي ناستي په ډول اعلان کړ. سراج الدین حقاني د حقاني د شبکې د بنسټ ایښودنکي جلال الدین حقانی زوي یو ځای د طالبانو پخواني قاضي القضات هبته الله اخندزاده د ملا منصور د مرستیالانو په صفت اعلان شول. د دغو پیښو له امله د حکومت او طالبانو تر منځ دوهمه ناسته چې د جولاي په ۳۱ نېټه په پاکستان تعین شوي وو، وځنډول شو او تر اوسه د خبرو لپاره بله نېټه ندی تاکل شوي. د طالبانو نوي مشر ملا منصور لومړنۍ عمومي پیغام، چې د اګست د میاشتې په ۱ نېټه خپور شو، د طالبانو په یوالې او د جهاد پر دوام غږ کړي، په داسې حال کې چې د سولې د پروسې راپورنو ته یې د دښمن د پروپاګنډې وجه ورکړ.

۶. د ملا عمر د مړینې د اعلان څخه وروسته ، د طالبانو د مشرتابه په منځ کې، د ملا منصور د انتصاب په وړاندې د طالبانو د یو شمیر پیاوړو کسانو لخوا، په ځانګړي ډول د ملا عمر د خپلوانو او سید طیب آغا په قطر کې د طالبانو د سیاسي

دفتر مشر په ګډون، کوم چې وروسته د اعتراض په ډول خپل د مقام څخه استعفاء وکړ، اختلاف او درز پیدا شوي. د دغه اعتراض با وجود، د طالبانو یو زیات شمیر غړي خپل بیعت د ملا منصور د طالبانو د مشر په ډول اعلان کړ او د اګست په ۱۳ نېټه ایمن الظواهری د القاعدي مشر هم دې ته ورته عمل تر سره کړ.

---

A/70/150.*

۷. زما د تیر راپور څخه وروسته حکومت دوه نور لوړپوري چارواکي انتصاب کړ. د ملي شورا ولسي جرګې د جولاي د میاشتې په ۸ نېټه د افغانستان بانک نوي رئیس اود ستري محکمی د دوو نورو نوماندانو له جملې څخه یو تن ته د اعتماد رایه ورکړې. تایید شوي نوماند سید یوسف حلیم وو چې د قاضی القضات په حیث د جولاي په ۲۷ نېټه د لوړې مراسم تر سره کړ. د ستري محکمې لپاره دوهم کاندید د ستري محکمې د غړې په صفت لومړنې ښځینه نوماندە وه چې د جرګې لخوا رد شو. همدارنګه د ملي شورا ولسي جرګې د جولاي په ۴ نېټه د ملي دفاع وزیر په صفت د حکومت نوماند محمد معصوم ستانکزی ته د اعتماد رایه ورنکړه. نوموړي د مي د میاشتې د ۲۳ نیټې را پدیخوا د دغه وزارت د سرپرست وزیر په ډول انتصاب شوي وو چې په دغه پست کې خپل کار ته دوام ورکړې. نور هغه تش پستونه چې باید ډک شي او د ولسي جرګې تایید ته اړتیا لري هغه د لوي څارنوال پست او د ستري محکمې دوه تنه قاضیان دي. ملي شورا د جولاي په ۲۲ نېټه خپل د دوبې رخصتیو ته ولاړ چې د سپتمبر په ۶ نېټه به غونډي بیرته حاضریږي. د دې سربیره، د راپور په موده کې ۱۱ تنه والیان هم انتصاب شول چې په ۲۰۱۵ کال کې د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه، د دوو ښځو په ګډون د ۲۳ ولایتې والیان انتصاب شویدي.

۸. د جون د میاشتې په ۱۹ نېټه د ولسمشر دفتر اعلان وکړ چې د ملي شورا ولسي جرګه تر راتلونکې پارلماني ټاکنو پوري به خپل کار ته ادامه ورکوي. پرته لدې، د اساسي قانون پر بنسټ، د ولسي جرګې کارې موده د جون د میاشتې پر ۲۲ نېټه پای رسیده. د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ولسمشر غني سره په یوه ناسته کې د ولسي جرګې او د ولسوالیو د شوراګانو د ټاکنو د ترسرکولو لپاره د دوو ممکنې نیټې، د ۲۰۱۶ کال د مي او یا د سپتمبر میاشتې، وړاندیز وکړ، خو تر اوسه هم کومه نېټه نده اعلان شوې. په داسې حال کې چې د ټاکنو لپاره کومه روښانه نېټه تعینه شوې نه ده ، وروسته له هغه چې نړیوال تمویل کوونکې دونران د افغانستان د ټول ټاکنو د مدیریت کوونکو موسسو سره خپل د مرستو کچه را ټیټه کړه، پدې اړوند ما په خپل مخکنې راپور کې وضاحت ورکړي وو، د ټاکنو خپلواک کمېسیون خپل د کارکوونکو شمیر د ۹۱۱ تنو څخه ۵۰۴ تنو ته را ټیټ او د مالې وزارت له لاري د کلیدي ظرفیتونو د ساتلو لپاره بودجه مختص کړې. د ټاکنو په اړوند د شکایاتو خپلواک کمېسیون د بودجې او د کارکوونکو په شمیر کې د ممکن بدلون مسله د حکومت تر غور لاندي دی.

۹. د ولسمشر غني او اجرائیه رئیس عبدالله تر منځ د ټاکنو د سمون پر مسله چې د سپتمبر د میاشتې په ۲۱ نېټه تړون کې، چې د هغه پر بنسټ د ملي یوالي حکومت رامنځته شو، موافقه شوي وو، یو څه پرمختګ شوي. وروسته له هغه چې ولسمشر او اجرائیه رئیس د ټاکنو د سمون د ځانګړي کمېسیون پر جوړښت، ریاست او عملیاتي چارو باندي هوکړې ته ورسیدل، دغه کمېسیون د جولاي د میاشتې د ۱۶ نېټې ولسمشریز فرمان په واسطه بیا جوړ شو. د ۱۴ غړو څخه جوړ شوي دغه کمېسیون دري میاشتنې تمدیدیدونکې ماموریت لري تر څو حکومت ته د ټاکنو د سمون په اړوند سپارښتنې وکړي. زما د ځانګړي استازي مرستیال، تدامیچي یاماموتو، په دغه کمېسیون کې د رایې د نه حق درلودونکې غړې په صفت، د ملګرو ملتونو څخه د مشورې ورکوونکې په ډول استازیتوب کوي.

۱۰. د اګست د میاشتې په ۳۰ نېټه د ټاکنو د سمون ځانګړي کمېسیون خپل د سپارښتنو لومړنۍ بسته چې پر راتلونکې ټاکنو باندې تمرکز درلود، اجرائیه رئیس عبدالله ته وړاندې کړ. د پنځو اونیو پیاوړو بحثونو څخه وروسته، د ټولو موجوده رایورکوونکو د ثبت کارتونو نامعتبر کول او په ټول هیواد کې د رایو ورکوونکو د لست د جوړولو د سپارښتنې برسیره، کمېسیون د افغانستان د ټاکنو د سیستم او د ټاکنو په مدیریتي ادارو کې د بدلون سپارښتنې وړاندې کړې. د خپل کار په موده کې کمېسیون، په دواړه کابل او کلیدي ولایتي مرکزونو کې د پراخو برخوالو سره د ناستې له لارې، د سیاسي ګوندونو، پیاوړي سیاسي مخورو، ولایتي چارواکو، مدني ټولنو، مذهبی مشرانو او په افغانستان کې د ټاکنو پر مسلو بوخت نړیوال موسسې په ګډون، پراخ سلا مشورې تر سره کړې. ملګري ملتونه کمېسیون ته، د نړیوال ښو کردارنو پر بنسټ، ښې مشورې وړاندې کړي او کمېسیون ته د ځینو بهرنې سلا مشورو لپاره، د ولایاتو څخه د لیدو په ګډون، زمینه مساعده کړې.

۱۱. د اپریل میاشتې په ۲۳ نېټه کابینې ته د ولسمشر غني د هدایت سره سم، ټول وزارتونه او د اجرایي ځانګې نهادونه، د ملی دفاع وزارت څخه پرته، خپل ۱۰۰ ورځنې ستراتیژي ګانې د راپور په موده کې وړاندې کړې. ستراتیژي ګانې په مجموعي ډول د حکومت د سمون اجنډا منعکس کوي، چې یو زیات شمیر یې په عام ډول وړاندې شوي تر څو د شفافیت او حسابورکونې په اړوند د حکومت ژمنتیا واضح ښکاره کړي. د جون د میاشتې په ۲۸ نېټه، احمد ضیاء مسعود د سمون او ښه حکومتوالۍ په چارو کې د ولسمشر ځانګړي استازي، د اداري اصلاحاتو په اړوند وړاندیزونه او د اداري فساد، سیاسي ګډون او عامه خدمتونو په ډګرونو کې د ظرفیت د رامنځته کولو د ترویج او وړاندې شوي سپارښتنې په هکله خپل راپور وړاندې کړ.

۱۲. همدارنګه، د ملي یوالي حکومت، د خپل د رامنځته کیدو کابو یو کال وروسته، د پام وړ کورنې سیاسي فشار سره مخامخ دی چې د ناوړه امنیتي او اقتصادي وضعیت سره دا هم یو ځای شوي. د اوسني اداري منتقدین، د پخواني ولسمشر حامد کرزي، په هغه پوري یو شمیر اړوند کسان او د یو شمیر جهادي مشرانو په ګډون، ټول په ګډه پاکستان سره د ولسمشر غني نږدیوالی، او په ځانګړي ډول د تفاهم هغه تړون په اړوند، چې د راپورونو له مخې د مې په میاشت کې د افغانستان د ملي امنیت د عمومي ریاست او د پاکستان د داخلي خدماتو استخبارات تر منځ نهایي شوي وو، خپل نارضایتي اظهار کړې. د جولای په ۱۴ نېټه ولسمشر غني د پخواني ولسمشر سره وکتل چې د راتلونکې همکاریو لپاره زمینه رامنځته کړي.

۱۳. په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندوي پلاوي (یوناما) د کندز، دایکندي، بامیان او بغلان په ولایتونو کې څلور نوښتونه پیاده کړې چې د افغانانو په مالکیت او د هغو تر مشري لاندې د پراخ ډیالوګ پر ترویج باندې تمرکز لري. دغه نوښتونه د ځایي دیني عالمانو په شمولیت باندې تمرکز لري چې د منځګړیتوب د هڅو او د شخړې د حل لپاره د شخړې د محرکونو ته رسیدګي کې د هغوي د ونډې د ملاتړ په هکله د سپارښتنو لامل شو. پدې هر یو نوښتونو کې شامل دیني علمانو پر حکومت باندې غږ کړې چې د ځایي او ملي کچې د مصالحې د هڅو تر منځ اړیکې پیاوړې کړي. د جولای په ۱۵ نېټه د سولې په اړوند د افغان وګړو دیالوګ، چې د یوناما په ملاتړ د مدني ټولنې یو نوښت دی، ګډونکوونکو د حکومت د چارواکو او د طالبانو د استازو ترمنځ خبرې وسټایل او د دښمنې د درولو او پر ملکي کسانو باندې د شخړې د اغیزو د کمولو لپاره د عملي ګامونو د اخیستلو غوښتنه وکړه. دوي همدا راز د دواړو خواوو څخه وغوښتل چې په هر ډول خبرو اترو کې د افغان وګړو، د ښځو او ځوانانو په ګډون، اړتیاوې په پام کې ونیسې.

**ب. امنیت**

۱۴. د راپور په موده کې د پېښو کچه نسبتاً ثابته پاتې شوي، که څه هم عمومي شمیر د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په اندول ۴،۶ سلنه کموالي ښيي. لاکن دوامداره جګړه د شدت او د جغرافي له پلوه وده کړې. د ملا محمد عمر د مړینې د تایید څخه

وروسته په کابل کې د سترو پېښو په شمېر کې د پام وړ زیاتوالې راغي او په یو شمېر زیاتو سیمو کې د حکومت ضد عناصرو د خپل منځې شخړو راپورونه تر لاسه شوي.

۱۵. ملګري ملتونه په دوامداره توګه د امنیت په اړوند پېښې څارې کوم چې د کار، تحرک او د ملکې فعالینو د خوندیتوب سره تړاو لرې او دا ظرفیت لرې چې د سپارل شویو دندو او پروګرامونو فعالیتونه اغېزمن کړي. د مې د میاشتې د لومړي نېټې څخه د جولاي د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، ملګري ملتونه په ټول هیواد کې ټولټال ۶۰۹۶ امنېتې پېښې ثبت کړي. د پېښو دغه شمېره د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په انډول ۴،۶ سلنه کموالې ښيې چې د ولسمشریزو ټاکنو دوهم پړاو احتوا کوي، او د ۲۰۱۳ کال د ورته مودې په انډول یو شان دی. د جغرافیې له پلوه د جګړې خپریدل په پراخ ډول پر شمال ختیز حوزو د کندز، بدخشان او بادغیس ولایتونو شاو خوا، په شمال لویدیز حوزه د فاریاب په لور، د ننګرهار ولایت سهیل ختیز حوزه او د سهیل په حوزه کې د هلمند ولایت په ګډون، باندې تمرکز درلود. د پېښو زیاتره برخه د هیواد د سهیلې او ختیز برخو څخه راپور ورکړ شوي چې د کندهار، ننګرهار، غزنې، هلمند او کنړ ولایتونه، د راپور په موده کې، د ټولو امنېتې پېښو ۴۴،۵ سلنه جوړوي. د روژې په میاشت او د هغه څخه وروسته د کوچنې اختر د نماځلو په دوران کې د ثبت شویو امنېتې پېښو شمېره په دغه میاشت کې د ۲۰۰۳ کال راهیسې د تر ټولو لوړه دوهمه شمېره ده، چې په تاوتریخوالو کې د پام وړ هر ډول کموالې نشتون منعکس کوي، چې د تیرو کلونو په موده کې پېښ شوي، پداسې حال کې چې افغان دینې عالمان، سیاسې مشران او ملګري ملتونه پر حکومت ضد عناصرو باندې غږ کړي چې تاوتریخوالې بند کړي.

۱۶. در راپور ورکولو دغه موده د پام وړ ده ځکه چې د حکومت ضد عناصر خپلې هڅې د یو شمیر ولایتونو د ولسوالیو د مرکزونو پر نیولو باندې متمرکز کړي وو. د دغو هڅو په پایله کې د اوه ولسوالیو مرکزونه، چې د تیرو کلونو په پرتله یو د پام وړ شمېره ده، چې وروسته د دغې له جملې څخه افغان امنیتې ملې ځواکونه پنځه ولسوالې بیرته ونیول، د طالبانو لخوا سقوط وکړ. که څه هم د حکومت ضد عناصرو لخوا د یو شمیر نیول شویو د ولسوالیو مرکزونه د اوږدې مودې لپاره د دوي تر کنترول لاندې وو، دوي ته دا موقع په لاس ورکړ چې ښه تبلیغ او مادی لاسته راوړنې ادعا وکړې. در راپور په دوره کې افغان ملې امنیتې ځواکونه وتوانیدل چې د رقابت لاندې ټولو سیمو کې یو زیات شمیر کې د برید ضد او د پاکسازی عملیات تر سره کړي. په دغه عملیاتو کې د مې په میاشت د ننګرهار په ولایت کې د یوې لوړي کچې عملیات وو چې ظاهراً د جلال آباد ښار په شاو خوا کې د پېښو د کچې په کمولو کې مرسته کړي او همدارنګه د اګست په میاشت کې د ولایت پر کلیدي ولسوالیو باندي اضافی په نښه شوي عملیاتونه شامل دي. د راپور په موده کې نور عملیاتونه هم د هلمند، غور او فاریاب په ولایتونو کې تر سره شوي. پداسې حال کې چې افغان ملې امنیتې ځواکونه په ټول هیواد کې د ستر اکثریت ولسوالیو مرکزونه تر خپل کنترول لاندې لري، خو بیا هم د حکومت ضد عناصر او ناقانونه وسله والې ډلې په پر له پسې توګه په زیاتو کلیوالې سیمو کې خلک ګواښوي.

۱۷. که څه هم دغه ډول بریدونه د حکومت ضد عناصرو موخې ښیي چې غواړې اراضې تر لاسه کړي، په ځانګړي ډول په کلیوالې سیمو کې، د افغان امنیتې ځواکونو ظرفیت په پراخه پیمانه د پام وړ هر ډول لاسته راوړنې د استحکام څخه مخنیوي کړي او د کوم ولایت مرکز د بلواګر په لاس ندی لویدلې. خو په عین حال کې افغان امنیتې ځواکونه په لیري پرتو سیمو کې، د تازه ځواکونو او اکمالاتو د رسولو په ګډون، د پر له پسې ننګونو سره مخ دي. د حکومت ضد عناصرو سره د مبارزي په اړوند د افغان امنیتې ځواکونو د پیاوړتیا په هکله اندیښنې د دې لامل شوي چې د حکومت پلوه ملېشې ډلې او یا د ځایي دفاعي ځواکونو د رامنځته کولو غوښتنې، په ځانګړي ډول د پخوانې جهادي مشرانو لخوا، وړاندې شي. د مې د میاشتې را پدیخوا یوناما د داسې راپورونو د شمیر په ثبتولو کې زیاتوالې مشاهده کړي او په راپورونو کې داسي ښودل شوي چې په شمال، لویدیز او سهیل په حوزو کې د حکومت پلوه ملېشې ډلې د رامنځته کیدو او یا ځواکمن کیدو په حال کې دي.

۱۸.	په عمومي ډول سره د پېښو په جریان کې بدولون ندی راغلی، چې وسله واله شخړې د امنیتي پېښو عمده برخه (۵۳ سلنه) او ورپسې په لاس جوړ چاودیدونکي توکي دي چې د پېښو (۲۶ سلنه) جوړوي. د حکومت ضد عناصرو لخوا د ډار او ګواښ په ذریعه د نفوذ او اغیز د عملی کولو هڅې په دوامدار توګه په لوړه کچه د هدفمندو/په نښه شویو وژنو لامل شوي. د راپور په دوره کې، د مې د میاشتې د ۱ نېټې څخه بیا تر جولاي د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې، ۲۹۱ وژنې او د وژولو هڅې ثبت شوي چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په انډول ۱۱،۴ سلنه زیاتوالې ښیي. همدارنګه د حکومت ضد عناصر د هیواد په پایتخت او د ولایاتو په مرکزونو کې د سترو بریدونو لړې ته دوام ورکړې. که څه هم دغه بریدونه په ظاهره کې د حکومت او نړیوال ځواکونه په نښه کړي، خو بیا هم ملکی کسان په دوامداره توګه د دغو بریدونو ستره اغیزه زغمي. د راپور ورکولو د مودې په لومړي برخه کې ستر بریدونه د جون د میاشتې په ۲۲ نېټه پر ملی شورا، د جون د میاشتې په ۳۰ او د اګست د میاشتې په ۲۲ نېټه په کابل کې پر نړیوال پوځي ځواکونو کاروان، همدارنګه پر افغان پوځ او حکومتی اهدافو باندې د کندهار په ولایت کې د مې د میاشتې په ۲۵ نېټه، د جلال آباد په ښار کې د مې د میاشتې په ۳۱ نېټه، په لشکرګاه کې د جون د میاشتې په ۳۰ نېټه او په خوست کې د جولاي د میاشتې په ۱۲ نېټه د بریدونو په ګډون دي. د ملا محمد عمر د مړینې د اعلان څخه وروسته د کابل ښار د اګست د میاشتې د ۷ تر ۱۰ نېټې پورې، د افغان ملی پوځ د مرکز په سیمه کې، د پولیسو پر اکاډمې، یو نړیوال پوځي مرکز او د کابل پر نړیوال هوایي ډګر باندې د ځان وژونکو بریدونو په ګډون، ستر بریدونه تجربه کړ چې د ۵۵ تنو څخه زیات وژنې او د ۳۳۰ څخه زیات ژوبلې لامل شو.

۱۹.	دغه دوره د بلوګرو د خپل منځي تاوتریخوالي، د عراق او شام د اسلامی حکومت (داعش) پورې تړلې ډلې او طالبانو تر منځ د خپل منځي شخړې په راپورونو کې، د پام وړ زیاتوالې شاهد وو. تر ټولو ستري شخړې د ننګرهار د ولایت څخه راپور روکړ شوي چیرته چې د مې تر جولاي د میاشتو په دوره کې ۴۸ پېښې راپور ورکړ شوي چې دواړه خواوو ته د پام وړ تلفات اړولې او د ځایي خلکو په منځ کې د بېځایه کیدو لامل شوي. ویل کیږي چې د شخړو لامل ایدیالوژیکې برتری او همدارنګه د پولو پر دواړه خواوو د قاچاق له امله پر ګټور مالی سرچینو باندې کنترول دی. راپور ورکړ شوي چې د نړیوال ځواکونو لخوا په تر سره شوي هوایي بریدونو کې د دغه ولایت د داعش ډلې یو شمیر ځایي لوړ کسان وژل شوي. د مې په میاشت کې د فراه ولایت څخه هم د ورته شخړو، که څه هم په ټیټه کچه وو، راپورونه رسیدلې دي. داسې ښکاري چې په داعش پورې زیات شمیر جنګیالې د افغانې طالبانو پخوانې جلا شوي غړي، د پاکستان د طالبانو د تحریک غړې او یا هم په القاعدې پورې اړوند پخوانې ډلې لکه د ازبکستان اسلامی تحریک څخه جذب شوي وی. د راپور په موده کې د داعش او په هغه پورې تړلې ډلې او طالبانو تر منځ سخته مقابله په تبلیغاتو کې د یو بل پر ضد د غچ اخېستونکې تاوتریخوالی له لاري ښودل شوي.

۲۰.	د راپور په موده کې ټولټال ۲۶ امنیتي پېښې ثبت شوي چې هغه په مستقیم او یا غیر مستقیم ډول د ملګرو ملتونو پر ضد ترسره شوي. د پېښو زیات شمیر، د جنايي او ډارونې د پېښو په ګډون، د ملګرو ملتونو د کار کوونکو پر ضد ترسره شوي. د دې برسیره، پر دوو ځمکنې ماموریتونو باندې، د مې د میاشتې په ۲ نېټه د بلخ په ولایت کې او د جولاي د میاشتې په ۱۳ نېټه د پکتیا په ولایت کې، بریدونه تر سره شوي. په خواشینې سره په دوهمه پېښه کې د افغان ډیپلوماتیک محافظت خدمتونو، چې د ملګرو ملتونو ځمکنې ماموریت پې بدرګه کول، یو تن افسر هغه مهال ووژل او دري تنه نور ټپیان شول چې د دوي موټر د لیري واټن څخه د ریموت کنترول په واسطه د ځای پر ځای شوي چاودیدونکې توکې باندې وختي. د ملګرو ملتونو د ملکیت او یا پرسونل په اړوند د تلفاتو او یا خساري کوم راپور ندي تر لاسه شوي.

**ج. سیمه ییزه همکاری**

۲۱. د افغانستان حکومت د راپور په موده کې د سیمه ییزو همکارانو سره خپل تعامل ته ادامه ورکړې. اجرائیه رئیس عبدالله د عمل لپاره د نړیوال د لسیزې د پلي کولو د لوړې کچې په نړیوال کنفرانس کې ؛اوبه د ژوند لپاره؛ ۲۰۰۵ -۲۰۱۵ ګډون کړې چې د جولای د میاشتې په ۹ او ۱۰ نېټه د دوشنبه په ښار کې جوړ شوي وو او په هغه کې ټینګار وکړ چې افغانستان د سیمه ییزو اوبو پر مسله باندې رغنده همکاریو ته چمتو دی. هغه د کنفرانس د څنډې په دوه اړخیزو ناستو کې د عمومي منشي او همدارنګه د تاجکستان د هیواد ولسمشر امام علی رحمان او صدر اعظم قاهر رسول زاده سره د امنیتي او اقتصادی اتصال پر مسالو باندې بحث وکړ. ولسمشر غني د جولای د میاشتې په ۱۴ نېټه د ګډ هراړخیز عمل پلان (JCPOA) تړون چې د ایران اسلامي جمهوریت او E3/EU+3 هیوادونو تر منځ لاسلیک شو، په سیمه کې د سولې او ټیکاو د پیاوړي کولو او اقتصادی همکاریو لپاره د یو فرصت په ډول هرکلي وکړ. همدارنګه افغانستان، د افغانستان په اړوند د وزیرانو په کچه د سیمه ییز اقتصادی همکاریو د شپږم کنفرانس د تیاري لپاره د دوو تیاری نیولو غونډو کوربه وو چې د سپتمبر په ۴ نېټه به په کابل کې جوړ شي.

۲۲. د راپور په موده کې د افغانستان او پاکستان ترمنځ د اړیکو د پیاوړی کولو لپاره هڅې او همدارنګه د دوو اړخیزو اړیکو په ډګر ننګونې تر سترګو شو. د جون د میاشتې په سر کې یو لیک رسنیو ته درز وکړ چې ویل کیږې په هغه کې ولسمشر غني د پاکستان د چارواکو څخه غوښتلې وو چې دوي د طالبانو د عملیاتو څخه مخنیوي د سولې د پروسې څخه ملاتړ وکړي. د پولو پر دواړو خوا نوي امنیتي پېښې اندېښنې رامنځته کړ چې په هغه کې د پولو په دواړو خواوو باندې غیر مستقیم بریدونه شامل وو او د دواړو هیوادونو د چاروکو د اعتراضونو د ثبتولو لامل شو. د افغانستان و پاکستان مشران بیا هم خپل رغنده تعامل ته، په ځانګړې ډول د سولې د پروسې په اړوند، ادامه ورکړې. د جولای د میاشتې په دوران او د مرې د خبرو اترو د بریالې ناستې څخه وروسته، د افغانستان حکومت او د طالبانو تر منځ د رسمي خبرو لپاره د منځګړې په ډول د پاکستان ښکاریده کیدل، د هیوادونو تر منځ د ښو اړیکو لامل شو. خو په عین حال کې، د اګست د میاشتې په لومړیو کې په کابل کې د پورته یاد شوي خونړي برید چې د طالبانو د نوي مشرتابه د ښکاریدو سره مصادف وو، د دې لامل شو چې ولسمشر غني په ښکاره ډول پر پاکستان باندې نیوکه وکړې او پر پاکستان باندې غږ وکړې چې په بیړه د طالبان، په ځانګړې ډول د طالبانو د عملیاتو د تیاري لپاره د هغه هیواد د ځمکې د کارولو، په وړاندې اقدام وکړي. په افغانستان کې د پاکستان پر خلاف د زیاتو منفي احساساتو د راپاریدلو له امله، ولسمشر غني د اګست د میاشتې په ۱۳ نېټه یو افغاني لوړ پوړي پلاوي اسلام آباد ته ولیږد چې د خپل پاکستاني سیالانو سره د ښو امنیتي همکاریو په اړوند خبرې وکړي. پاکستان بریدونه وغندل، خپل د خواښوګې مراتب یې څرګند او خپل پر ژمنو، د تروریزم پر وړاندې ګډې هڅې، باندې ټینګار وکړ. دوي همدارنګه د افغانستان د حکومت همکاری وغوښتل چې په عامه توګه د پاکستان د غندلو څخه ډډه وکړي.

۲۳. د منځنۍ آسیا هیوادونه او د روسیې فدراسیون په پر له پسې توګه د افغانستان د خاورې څخه له تشدد ډک افراطیت د خپریدو په اړه خپلې اندیښنې څرګندې کړې. د شانګهاي د همکاری سازمان د حوزي د امنیت او ټیکاو؛ تر عنوان لاندې په لوړه کچه کنفرانس کې چې د جون د میاشتې په ۴ نېټه په مسکو کې جوړ شوي وو، ګډونکوونکې د یو پرمخ تللي با ثباته او سوله ایزه هیواد د رامنځته کولو لپاره د افغانستان د هڅو څخه خپل ملاتړ څرګند کړ. د شانګهاي د همکاري سازمان د هیوادونو د مشرانو د شورا په غونډه کې چې د جولای د میاشتې په ۹ او ۱۰ نېټه د روسیې د فدراسیون په اوفا ښار کې جوړ شوي وو، ولسمشر غني د ټولیزې امنیتي ننګونو ته د رسیدګې په خاطر د پیاوړي سیمه ییز همکاري غوښتنه وکړ او تاکید وکړ چې تروریستان غواړي چې د افغانستان د خاوري په کارولو سره سیمه بې ثباته کړي. د چین ولسمشر شي جي پینګ د ولسمشر غني د غوښتنې سره همغږي شو په داسې حال کې چې د افغانستان نور ګاونډي هیوادونه اعلان کړل چې دوي به خپلې پولې د دغه هیواد سره نور هم پیاوړې کړي.

۲۴. سیمه ییزه هڅې چې غواړي د شمال-سهیل د انرژۍ اتصال پیاوړي کړي، او پر افغانستان باندې مثبته اغېزه لري، وروسته له هغه په خوزښت راغې چې د پاکستان صدراعظم نواز شریف د مې د میاشتې په پای کې او د هند صدر اعظم نرندرا مودي د جولای د میاشتې په پیل کې په جلا ډول سره د مرکزي آسیا څخه لیدنه وکړه. دواړه مشران او د دوی سیالان ژمنه وکړل چې د سیمه ییزې انرژۍ پروژو ته به چټکتیا ورکوي. صدراعظم نرندرا مودې او د ترکمنستان ولسمشر قربانقلی بیردی محمدوف وعده وکړل چې د ترکمنستان، افغانستان، پاکستان و هندوستان د طبیعي غازو نل لیک پروژې ته به سرعت ورکوي. د پاکستان صدر اعظم، د تاجکستان ولسمشر امام علی رحمان او د قرغزستان ولسمشر الماس بیګ حاتم بایف هم په ګډه ژمنه وکړل چې د مرکزي آسیا – سهیلی آسیا (کاسا ۱۰۰۰) د اوبو د برق لین پروژه به چټکوي. د اګست د میاشتې په ۷ نېټه د کانسرسیوم د رهبرۍ کمیټه د ترکمنستان د هیواد ترکمن ګاز کمپنې د کانسرسیوم د مشر په توګه وټاکل تر څو د طبیعي غازو نل لیک پروژې پلې او فعاله کړي.

### III. بشري حقونه

۲۵. یوناما د ۲۰۱۵ کال د اګست د میاشتې په ۵ نېټه په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو تحفظ خپل ۶ میاشتنۍ راپور خپور کړ چې د ۲۰۱۵ کال د جنورۍ د میاشتې ۱ نیټې د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې دوره احتوا کوي. په دغه دوره کې یوناما ټولټال ۴۹۲۱ مورده ملکي تلفات (۱۵۹۲ وژنې او ۳۳۲۹ ژوبلې) ثبت کړي چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۱ سلنه زیاتوالی ښيي. د ملکي تلفاتو زیاتره برخه (۹۰سلنه) د ځمکنۍ شخړو، په لاس جوړ چاودیدونکې توکي، پېچلې ځانوژونکې بریدونه او عمدي وژنو له امله رامنځته شوي. د حکومت ضد عناصر د ټولټال ملکي تلفاتو د زیاتره برخې (۷۰ سلنه) مسؤلیت په غاړه لري چې په دوهم درجه کې حکومت پلوه ځواکونه (افغان ملي امنیتي ځواکونه او حکومت پلوه ډلې ۱۵ سلنه او نړیوال پوځي ځواکونه ۱ سلنه) دي چې په ګډه ۱۶ سلنه مسؤلیت په غاړه لري او ۱۰ سلنه نور تلفات په کومې مشخصې ډلې پورې نه دي منسوب شوي ځکه چې اکثریت یې په ځمکنۍ شخړو کې د یو پر بل خوا د ډزو په ترڅ کې پېښ شویدي. د ملکي تلفاتو ۴ سلنه د جنګ څخه پاتې شوي چاودیدونکې توکي ته منسوب شوي. د په لاس جوړ چاودیدونکې توکي وروسته ځمکنۍ شخړي په دوهمه درجه کې راځي، سربېره پر دې چې دواړه د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله په ترتیب سره ۱۹ او ۲۱ سلنه کم شوي وو، چې د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. که څه هم په عمومي ډول سره د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۱ سلنې زیاتوالی راغلی خو د ملکي تلفاتو په شمېر کې د پیچلې انتحاری بریدونه له امله ۷۸ سلنه او په نښه شوي وژنو کې ۵۷ سلنه زیاتوالی ثبت شوي دی. په راپور کې دا هم ښکاره شو چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په انډول، د حکومت پلوه ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۶۰ سلنه زیاتوالی راغلی چې ټولټال ۷۹۶ ملکي تلفات (۲۳۴ ملکي وژنې او ۵۶۲ ټپیان) جوړه وي چې په دې اړوند توصیه وشو تر څو په ملي کچه د ملکي تلفاتو د کمیدو او مخنیوي لپاره پالیسي جوړ او پلې شي. په راپور کې توصیه وشو تر څو هم د حکومت مخالف عناصر او هم حکومت پلوه ځواکونه د پوځي موخو لپاره د ښوونځیو، شفاخانو او کلینیکونو څخه استفاده بند کړي. د اګست د میاشتې په ۱۱ نېټه د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون په افغانستان کې د بشري حقونو د وضعیت په اړوند خپل د ۱۳۹۳ لمریز کال راپور (د ۲۰۱۴ کال د مارچ د میاشتې ۲۰ څخه د ۲۰۱۵ کال د مارچ د میاشتې تر ۱۹ نېټې پورې) خپور کړ چې په هغه کې جریانات او د ملکي کسانو د تلفاتو احصائیه، چې په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو تحفظ د یوناما د ۲۰۱۴ کال د راپور سره په زیات پیمانه ورته والې لري، شامل دی.

۲۶. یوناما، د ۲۰۱۵ کال د مې د میاشتې د لومړي څخه د جولای د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې ټولټال ۲۹۸۵ مورده ملکي تلفات (۹۳۴ وژنې او ۲۰۵۱ ژوبلې) ثبت کړي چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په انډول ۱۳ سلنه کموالی ښيي. کیدای شي د راپور په موده کې دغه کموالی له دې امله وي چې یوناما د ۲۰۱۴ کال په ورته موده کې د ټولټاکنو په پروسه باندې، په ځانګړي ډول د ۲۰۱۴ کال د جون د میاشتې په ۱۴ نېټه د ولسمشریزو ټاکنو په دوهم پړاو کې، د زیاتو بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې

ځغلنده زیاتوالی ثبت کړي وو. د همدې راپور په موده کې د حکومت ضد عناصر د ټولټال ملکي تلفاتو ۶۹ سلنه او حکومت پلوه ځواکونه ۱۸ سلنه (افغان امنیتي ځواکونه ۱۶ سلنه، حکومت پلوه ملیشه ډلې ۱ سلنه او نړیوال پوځي ځواکونه ۱ سلنه) مسؤلیت په غاړه لري او ۱۰ سلنه نور ملکي تلفات د حکومت پلوه ځواکونو او د حکومت ضد عناصرو په ځمکني شخړو کې د یو پر بل باندې د ډزو په ترڅ کې پېښ شویدي. د ملکي تلفاتو ۳ سلنه د جنګ څخه پاتې شوي چاودیدونکې له امله رامنځته شوی چې هیڅ کومې ډلې ته نه دی منسوب شوي. ځمکني شخړي د تر ټولو زیات ملکي تلفاتو لامل شوي چې شمېر یې ۹۸۵ مورده (۲۶۲ وژنې او ۷۲۳ ژوبلې) جوړوي چې په لاس جوړ چاودیدونکې توکې په دوهمه درجه کې راځي.

۲۷. د راپور په ټوله موده کې یوناما د طالبانو او نور حکومت ضد عناصرو له خوا په پرله پسې توګه په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې د پېچېلې انتحاری بریدونو څخه د کار اخیستلو په اړوند خپله اندیښنه رابرسېره کړې. طالبانو د مې د میاشتې په ۲۵ نېټه یو انتحاری موټر بم یې د زابل ولایت د ولایتي شورا د تعمېر په مخ کې وچول چې د ۷۹ ملکي تلفاتو، د ۳۰ تنو ښځو او ۲ تنو ماشومانو په ګډون، لامل شو. همدا راز طالبانو د جون د میاشتې په ۳۰ نېټه د یو پېچېلې برید په ترسره کولو سره د هلمند ولایت په لښکرګاه ښار کې د افغان ملي پولیس ځواکونه یې په نښه کړ. بریدګر ۵ ملکي کسان ووژل او ۶۲ تنه نور یې ژوبل کړل. د اګست د میاشتې په ۷ نېټه درې بریدونه ۳۵۵ ملکي تلفات (۴۲ ژونې او ۳۱۳ ژوبلې) واړول چې د ۲۰۰۹ کال را پدیخوا کوم چې یوناما د ملکي تلفاتو سیستماتیک ثبتول پیل کړي، په یوه ورځ کې د تر ټولو زیاتو ملکي کسان د وژل کیدو او ژوبل کیدو ښکارندوي دی. د دغه بروېدونو په یو برید کې چې په چاودیدونکو توکو ډک یو انتحاری موټر بم د کابل ښار د شاه شهید په سیمه کې وچاودول شو، ۱۵ ملکي کسان یې وژول او ۲۸۳ تنه نور یې ژوبل کړل. طالبانو د پورته یاد شوي هر برید مسؤلیت منلې خو د یوې اعلامې په خپرولو سره د شاه شهید په سیمه کې د برید مسؤلیت په صراحت سره رد کړیدی.

۲۸. د ۲۰۱۵ کال د مې د میاشتې د لومړې د جولای د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې د ملګرو ملتونو تر مشري لاندې د راپور ورکوونې او ارزونې کارې ډله ۳۷۹ پېښې مستند او تثبیت کړې چې د هغه په ترڅ کړې کوم چې د هغه له امله ۷۸۵ ماشومانو ته تلفات اووښتې چې ۲۲۰ تنه وژل شوي او ۵۶۵ تنه ژوبل شویدې. ځمکنې شخړې لړ تر لړه ۳۹۱ ماشومانو ته مرګ ژوبله اړولې، چې د وژنو تر ټولو زیات لامل دی او د ماشومانو د ټولټال تلفاتو ۴۹،۸ سلنه جوړوي. هغه پېښې چې په هغه کې د حکومت ضد عناصر د په لاس جوړ چاودیدونکې توکې کارولې ماشومانو ته ۱۸۰ مورده ملکي تلفات (۲۹،۹ سلنه) اړولې. په ټولیزه توګه د حکومت ضد عناصر د ماشومانو د عمومي تلفاتو شمېر څخه، د ۳۶۵ تنو ماشومانو د تلفات ( او یا ۴۶،۵ سلنه) مسؤلیت په غاړه لري او حکومت پلوه ځواکونو ته د ۲۰۳ مورده تلفات (۲۶ سلنه) مسؤلیت منسوب شوي. تر دې مهاله د کال د پېښو په تحلیل سره داسې معلوم شو چې د ۲۰۱۵ کال د اپریل د لومړې نیټې د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې د ماشومانو د تلفاتو مستند او تثبیت شوي پېښې، د ماشومانو د مستند شوی تلفاتو په قضیو کې، چې د ۲۰۰۹ کال را پدیخوا کوم چې په افغانستان کې د ماشومانو د تلفاتو د قضیو سیستماتیک ثبتول پیل شوي، د پام وړ زیاتوالی راغلی دی. د دې برسېره د تېرو درې میاشتو په پرتله، د اپریل د لومړې نیټې د جون د میاشتې تر ۳۰ نیټې پورې پر ښوونځیو او د هغه په اړوند کارکوونکو باندې د بریدونو په شمېر کې د پام وړ زیات والې راغلې چې د ۱۵ پېښو څخه ۵۲ پېښو ته زیات شوي، د هغه له جملې څخه ۴۰ پېښې تثبیت شوي او ۳۳ پېښې د حکومت ضد عناصرو ته منسوب شویدي. د راپور په موده کې د پوځي ځواکونو لخوا د ماشومانو د ګمارلو راپورونه رسیدلې چې پنځه یې تثبیت شوي او درې پېښې طالبانو ته او دوه پېښې افغان امنېتي ځواکونو ته منسوب شوي.

۲۹. د جون د میاشتې په ۳۰ نېټه، ولسمشر اشرف غنې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک په اړوند، ښځې سوله او امنیت د ۲۰۱۵ – ۲۰۲۲، د عمل ملې پلان پیاده کړ. د عمل پلان په محتوا کې، د ګډون ، ساتنې ، مخنیوي او مرستې او بیارغونې په ډګرونو کې، چې د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک څلور ستنې دي، د مخ په زیاتیدونکې ونډې په

لور د ښځو د تعامل په اړوند د حکومت ژمنې شاملې دي. د پلان پیل د یو کلن اوږدې مودې مشورتي او تخنیکي پروسې روسته پای ته رسیدلی چې د ملګرو ملتونو لخوا یې ملاتړ کیږي، تر څو یو داسې کارې چوکاټ رامنځته کړې چې په ملي او سیمه ییزه کچه د سولې په روانه پروسه کې د ښځو ګډون ډاډمن کړي. د جون د میاشتې په ۱۶ نېټه، ملګرې ملتونه خپل نړیوال کمپاین د (هغه د هغې لپاره) تر عنوان لاندې په کابل کې د "زړور نارینه د ښځو لپاره ودریږي" تر شعار لاندې په کابل کې په یوه لوړه کچه غونډه کې پلې کړ. نارینه مهم ویناکوونکې دا خبره روښانه کړه چې اړتیا تر څو نارینه د جنډر د مساواتو او د ښځو ځواکمنتیا لپاره مرسته او ملاتړ وکړي او یادونه وکړه چې د ۲۰۰۱ کال راهیسې د پرمختګ سره سره، د جنډر مساوات لا هم یوه ستره ننګونه ده. د ښځو د چارو وزارت خپل د ۱۰۰ ورځنۍ کاری پلان د جون د میاشتې په لومړې نېټه لارې ته اچولی، چې په هغه کې د ملګرو ملتونو تخنیکي مرسته هم شامله وه. د کارې پلان به مهمو اړخونو کې د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي د له منځه وړو لپاره ملي ستراتیژې او همدارنګه د ښځو اقتصادي امنیت او د حقونو ستراتیژي، او همدارنګه د افغانستان د ښځو لپاره د ملي عمل پلان (۲۰۰۸-۲۰۱۸) د شاخصونو بیاکتنه شامل دي.

۳۰. د یوې محمکې د حکم څخه وروسته چې څو تنه یې د مارچ د میاشتې په ۱۹ نېټه د کابل ښار په یوه ګڼه ګونه کې د یوې ۲۷ کلنې ښځې په قتل کې د ګډون په تور په جزا محکوم کړ، د دوسیې څارنوال او محکوم شوي کسان خپل د استیناف غوښتن لیکونه د کابل په استیناف محکمه ثبت کړل. د جون د میاشتې په ۳۰ نېټه د استیناف محکمه هم خپله فیصله واوروله او د یو ملکي شخص او دوه تنه پولیس افسرانو د محکومیت څخه پرته، د ابتداییه محکمې حکم یې د نورو ټول کسانو د محکومیت په اړوند تایید کړ. همدا راز محکمه د ټولو د بند سزا تایید خو د څلورو تنو د مرګ سزا په اوږ بند تعدیل کړ. د قضیې په اړه د تمیز غوښتن پاڼې هم د ټولو لخوا سترې محکمې ته وړاندې شوي.

۳۱. د افغانستان حکومت د مې د میاشتې په ۴ نېټه د شکنجې د له منځه وړلو په اړوند د ملې عمل پلان سره په مطابقت کې، د پلې کولو کاري کمیته رامنځته کړې چې د حکومت د اړوندو نهادونو د سترو غړو، د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او د مدنې ټولنو د استازو څخه جوړ شوي. د جون د میاشتې په ۲۵ نېټه د ملې امنیت عمومې ریاست یو امریه صادر کړي او په هغه کې د شکنجې، په ځانګړي ډول د تحقیق پر مهال د اعتراف د اخېستلو لپاره د شکنجې کارول، د منعه کولو لپاره بیا غوښتنه کړې.

## IV. د کابل د پروسې پلې کول او د پرمختیایي مرستو همغږي

۳۲. د سترو چارواکو غونډه، چې د لندن په کنفرانس کې پر هغه موافقه شوي وو او د حکومت د سمون پر اجنډا باندې تمرکز لري، د افغانستان د حکومت په کوربه توب د سپتمبر د میاشتې پر ۵ نېټه په کابل کې دایر شو. لړ وړاندې، د مې د میاشتې په ۲۱ نېټه د تماس د نړیوالې ډلې غونډه کې ګډونکوونکو موافقه وکړه چې د سترو چارواکو غونډه باید د پرمختیایي مشارکت اصول، د متقابل حساب ورکوونې، او د اوسنې بیا نوي شوي د متقابل حساب ورکوونې کارې چوکاټ چې د حکومت د سمون اجنډا مدغم کړي، یو وار بیا تایید کړي. د بیا نوي شوي کاری چوکاټ باندې، د نورو حکومتونو تر مشری لاندې پروسو د روانو سمونونو د پرمختګ په اړوند د راپور تهیه کول، د ملي لومړیتوب د پروګرامونو توحیدکول، د نهادونو او اجرایه ځانګې د وزارتونو د ۱۰۰ ورځنۍ کارې پلان خلکو ته وړاندې کول او د عمومې مالې د مدیریت د سمون په اړوند د حکومت د تګلارى د تخنیکې بیا کتنې په ګډون، کار په موازی ډول سره دوام لري.

۳۳. حکومت د اقتصادي سمون تدبیرونو پلې کولو ته ادامه ورکړې چې د نړیوال د پیسو د صندوق سره، د کارکوونکو د ارزونې د پروګرام له لارې د جون د میاشتې په ۲ نېټه پر هغه باندې سلا شوي وو. په دغه تدبیرونو کې ساختاري معیارونه او

د بانکداری د سکتور د اجرات او د کورني عایداتو د ښه کولو لپاره طرح شوي تدبیرونه، شاملې دې. د مالیې وزارت د دغه تدبیرونو مشرې کوي چې د کورني عایداتو اجرات ښه کړې او هم راپور ورکړي چې د مالي کال په لومړیو شپږو میاشتو کې کابو ۸۲۹ میلیونه امریکایي ډالر د کورني عایداتو څخه راټول شوي چې د تیر کال په پر تله ۹،۹ سلنه زیاتوالي ښيي. ولسمشر غني هم د جولای د میاشتې په ۱۳ نېټه د افغانستان بانک د رئیس د لوړې په مراسم کې د افغانستان بانک پر خپلواکۍ یو ځل بیا تاکید وکړ. تمه کیږي چې د کارکوونکو د ارزونې پروګرام د لومړي بیاکتنې په دوران کې تحلیل شي چې حکومت او د پیسو نړیوال صندوق په پام کې لري د مالي کال په دوهمه برخه کې لاري ته واچوي.

۳۴. د راپور په موده کې د مالیې او اقتصاد وزارتونه او د سیمه ییزه ارګانونو خپلواکه اداره یو ځای د هغه اړوندو وزارتونو سره چې په ولایتي کچه کې هم کار کوي د حکومت د سمون د اجنډا د پلې کولو لپاره ګامونه پورته کړې چې ژمنه کړي وو تر څو انکشافي بودجه ۴۰ سلنه غیرمرکزي کړي. یاد شوي نهادونه د توصیو لپاره د پالیسۍ طرحه آماده کړې تر څو زیاتره اشتراکي او غیرمرکزی انکشافي پلانونه او د بودجې جوړولو کړنلاره پلې کړې چې کابینې ته د بحث لپاره وړاندې شي. د محلي ارګانونو خپلواکه اداره د جون د میاشتې په ۲۷ نېټه خپل ۱۰۰ ورځنۍ کاري پلان وړاندې کړ چې ولایتونو ته د صلاحیت تفویض او سرچینې په لومړیتوب کې شامل کړي.

۳۵. حکومت د قانون د حاکمیت د ترویج او اداري فساد ته د رسیدګۍ لپاره هڅو خپلو ته دوام ورکړي. د جولای د میاشتې په ۲۷ نېټه د ولسمشر غني لخوا د سترې محکمې د رئیس په توګه د هغه د انتصاب څخه وروسته، قاضی القضات په یو لړ اصلاحاتو باندي کار پیل کړي. د قاضي القضات په مشرۍ لومړنۍ بحثونه د اصلاحاتو په لومړیتوب ورکولو باندې متمرکز وو تر څو د محکمې د پریکړو او اقداماتو روڼتیا نوره هم پیاوړې شي؛ د اداري فساد په وړاندې تدابیر تقویه شي؛ عدالت ته لاسرسي بهتره شي؛ د قضایي افسرانو لپاره روزنې زیاتې شي او د قضایه قوې خپلواکۍ تقویه شي. د راپور په موده کې د لوي څارنوالۍ دفتر د کابل بانک په سقوط کې د ښکیلو کسانو د عدلي تعقیب لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي. د لوی څارنوالۍ دفتر د جون د میاشتې په ۲۵ نېټه د کابل بانک د تصفیې ریاست د دوه غړو نیول، د شتمنیو د کنګل کولو لپاره تدابیر او د جولای د میاشتې په ۶ نېټه پر ۱۵۵ نورو کسانو باندې د سفر بندیز لګول، او د جولای د میاشتې په ۲۷ نېټه په هوایي ډګر کې د کابل بانک دو تنه پوروړي، چې هڅه کول د هیواد څخه بهر ته ولاړ شي، د نیولو اعلان وکړ. د جون او د اګست په میاشتو کې، د اداري فساد پروړاندې د نظارت او ارزونې خپلواکه ګډه کمېټه د فساد درې " زیانمنېدونکې" عرصې د ارزونې راپور خپرې کړې چې د شهیدانو او د جګړې له امله د معلولو کسانو لپاره د تادیې سیستم، د ښځو په وړاندې د تاو تریخوالي د له منځه وړلو قانون کې د تحقیقاتو د پروسې اړوند او په قضایي سیستم کې د رسمي اسنادو ثبت تر پوښښ لاندې نیسي. د جون د میاشتې له لومړۍ تر ۵ نېټې پورې، د افغانستان د اداري فساد په وړاندې د متخصصینو او دوه بیاکتنې هیوادونو ترمنځ ګډه ناسته جوړه شوې ترڅو د اداري فساد په وړاندې د ملګرو ملتونو د کنوانسیون د پلي کولو په اړوند د افغانستان لازمي بیاکتنه ترسره کړي.

۳۶. د راپور په موده کې، د کورنیو چارو وزارت د نړیوالې همکارۍ عمومي ریاست رامنځته کړ، چې د هغه په رامنځته کیدو سره د کورنیو چارو وزارت ته د نړیوال پولیس د همغږۍ بورډ د سکرتریت د لیږد پروسه بشپړه شوه. دا د پولیسو د اداری پراختیا مالکیت او د نړیوالو همکارانو لخوا د مالي مرستو د همغږي کولو د تامین لپاره د حکومت یو مهم ګام دی. سربیره پردې، څرنګه چې د کورنیو چارو وزارت د ښځینه پولیس شوراګانې د ۲۰۱۴ کال د دسمبر د میاشتې په ۹ نېټه د ملي ستراتیژۍ د کړنلارې په توګه تایید کړ، د دوی شوراګانو د تاسیس په لور پرمختګ دوام لري، چې د راپور په موده کې ۲۳ شوراګانې رامنځته شویدي. د اګست د میاشتې تر ۲۰ نېټې پورې، د ښځینه پولیسو ۷۵ شوراګانې وې، چې ۴۵ یې د کورنیو چارو وزارت په ریاستونو او د کابل ښار د پولیسو په حوزو کې او ۳۰ نور یې ولایتونو کې دي.

۳۷. د جون د میاشتې په ۳۰ نېټه، د کورنیو چارو وزارت د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام سره د افغانستان لپاره د قانون او نظم وجهي صندوق د ۱۸ میاشتنی د تمدید موده تصویب کړ. د ولسمشر غني د پالیسۍ په اړوند د لارښوونې په ځواب کې، دا پروژه به په کورنیو چارو وزارت کې د ظرفیتونو لوړولو ملاتړ وکړي. دغه وجهي صندوق به شاوخوا ۸۴۳ ملیونه ډالر د مالیې وزارت ته د ۱۵۰۰۰۰ تنو زیاتو پولیسو افسرانو د معاشونو لپاره ورکوي او ۳۸ ملیونه ډالر د ظرفیتونو لوړتیا او پراخه امنیت او قضایي اصلاحاتو پورې اړوند سمون د ملاتړ لپاره چمتو کوي.

## ۷. بشردوستانه مرسته

۳۸. د راپور ورکولو په جریان کې، حکومتي ځواکونو او شورشیانو او نړیوالو تروریستي اړوندو شبکو تر منځ د روانې شخړې له امله د پام وړ نفوس بې ځایه شوي او ملکي وګړي اغېزمن شوي. د افغانستان له سویل او سویل ختیځ څخه شمالي ته د جګړې پراخیدو د بشرپالنې فعالینو لخوا د مرستې چمتو کولو لپاره ننګونې رامنځ ته کړې، په ځانګړې توګه دې ته په پام سره چې د جګړې له امله ډیری بې ځایه شوي وګړي په داسې سیمو کې موقعیت لري چې د روانو شخړو له امله بشردوستانه ادارو ته د لاسرسي وړ ندي.

۳۹. د جګړې له امله بې ځایه کیدنه په نږدې ټولو سیمو کې د پام وړ لوړېدو ته دوام ورکړې، چې د شورشیانو او نړیوالو تروریستي اړوندو شبکو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو ضد عملیاتو له امله رامنځته شوی. د ۲۰۱۵ د جون په ۳۰ ، د داخلي بې ځایه کیدونکو کسانو په اړه کاري ځواک راپور ورکړ چې د ۲۰۱۵ کال په جریان کې د شخړو له امله ۱۰۳۰۰۰ وګړي بې ځایه شوي دي. دا د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ۷۷ سلنه ډیروالی ښيي. د بې ځایه کیدو ترټولو لوی شمیر (۳۷۵۲۳ وګړي) په کندز ولایت کې ثبت شوی. بې ځایه کیدنه د افغانستان په ختیځ کې د طالبانو او نورو هغو ډلو ترمنځ چې له داعش سره يي خپل بیعت اعلان کړې، د نښتو له امله هم رامنځ ته شوې. د می له ۱ څخه د جون تر ۳۰ پورې، ملګرو ملتونو او د هغه بشري همکارانو نږدې ۲۵۹۱۶۰د جګړې له امله بې ځایه شویو خلکو سره د نږدې ۳۶۳۴ میټریک ټنه خوراکي توکو مرسته وکړه. ملګرو ملتونو د ژمي په جریان کې د شخړو له امله د بې ځایه شویو خلکو د ملاتړ لپاره چمتووالی پیل کړی دی.

۴۰. د می له ۱۵ څخه د جولای تر ۳۱ پورې، د شدیدې هوا، د واورو د اوریدو، د سیند د غاړې تخریب او دروند بارانونو له امله سیلابونو په شمول، د ۳۴ ولایتونو څخه کابو ۲۵ولایتونو اغیزمن کړي. ټولټال د ۱۹ تنو د وژل کیدو او ۱۳ ټپي کیدو راپور ورکړل شوی او همدا راز ۱۲۰۰ کورونه ویجاړ او ۱۴۰۰ کورونه زیانمن شوي دي. په ټولیز ډول، ۱۸۱۶۰ اشخاص، د ۶۱۰۰ تنو چې له خپلو کورونو بې ځایه شوي پشمول، د طبیعي پیښو له امله اغیزمن شوي، او د افغانستان د طبیعي پیښو پروړاندې د اداري او بشري مرستندویه اداري لخوا هغوی سره مرسته شوې. د ۲۰۱۵ کال د می او جون په میاشتو، ملګرو ملتونو په ټول هیواد کې د طبیعي پیښو څخه اغیزمن شویو کابو ۱۶۱۳۵خلکو سره د ۴۲۵ ټنه د خوراکي توکو مرسته وکړه.

۴۱. د ګوزڼ د له منځه وړلو هڅو د افغانستان په سویل او ختیځ کې په ورته ډول په سویل ختیځ او لویدیځو سیمو کې د لاسرسي ننګونو سره مخ دي. د می له میاشتې څخه تر اګست میاشتې پیل پورې، ملګرو ملتونو او اړوندو ښکیلو اړخونو په کندهار ولایت کې د واکسین د کمپاین د بیا پیل لپاره سره وکتل، چیرې چې له د ۵۲۳۰۰۰ څخه زیات د پنځه کالو څخه کم عمر لرونکي ماشومان د ګوزڼ واکسین څخه بې برخې شوي وو. د واکسین کمپاین د اګست په ۲۳ په کندهار ولایت کې بیا پیل شو. د تیر راپور راهیسې، په افغانستان کې د ګوزڼ ۷ نوې پېښې تایید شوې، چې دا د ۲۰۱۵ لپاره ټولټال ۸ پیښو ته لوړوي. د دې نوې پیښو څخه پنځه يې په لویدیځ والیتونو فراه او هرات کې تایید شوي او په جینیکي توګه په کندهار ولایت کې د پولیو ورته ویروس سره اخته دي. د می د ۱ او اګست نیمايي ترمنځ، د معافیت ملي ورځې دوه دورې او د سیمه ییزې واکسیناسیون ورځې درې پړاوونه ترسره شوي. د واکسیناسیون ملي کمپاینونه موخه داده چې شاوخوا ۹ ملیونه ماشومان واکسین کړي.

۴۲. د درې اړخيز کميسون ناستې د اګست په ۲۱ په کابل کې د افغانستان، پاکستان او د ملګرو ملتونو د مهاجرينو عالي کميشنرۍ (UNHCR) دفتر سره او د اګست په ۱۷ د افغانستان، د ايران اسلامي جمهوريت او UNHCR سره ترسره شوې. په دې غونډو کې، داوطلبانه، خوندي، باعزته او په تدريجي ډول د افغان مهاجرينو بيرته راستنيدو او په پاکستان او ايران کې د مهاجرينو د مديريت متداومه پلان جوړولو پروسه دوام لري. د افغان مهاجرينو لپاره د حل لارې د ستراتيژۍ خواخوږو په نوم يوه ډله د جون په ۱۶ په کابل کې جوړه شوه، چې د تمويل کوونکو، پرمختيايي ادارو، د ملګرو ملتونو ادارو، غير دولتي سازمانونو او د افغانستان، پاکستان او ايران دولتونو استازو څخه تشکيل شوې ده. د افغان مهاجرينو لپاره د حل د ستراتيژۍ په دندو او مسوولیتونو کې، د بيلابيلو ادارو څخه د بيا يوځای کيدو او پرمختيايي پروژو لړۍ درلودونکي، پدې وروستيو کې بياکتل شوي. د هيواد په کچه په دندو او مسوولیتونو کې د يادې ستراتيژۍ پلي کولو لپاره پروژې، فعاليتونه او مالي اړتياوې شاملې دي. د مهاجرت عالي کمېسيون، چې د ولسمشر غني په مشرۍ ترسره شو، د جون په ۲۲ خپله لومړۍ ناسته ترسره کړه. هوکړه وشوه چې د وزيرانو شورا فرعي کميټه به د اړوندو وزارتونو له لارې د پاليسۍ پورې اړوندو پريکړو پلي کولو مسؤليت ولري. يوناما، UNHCR او د مهاجرت نړيوال سازمان (IOM) به د کمېسيون د دارالانشاء سره مرسته وکړي.

۴۳. د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې، د نه ثبت شويو افغانانو په شمير کې زياتوالی راغلي کوم چې د ايران او پاکستان څخه په عاجله توګه راستون شوي يا له يادو هيوادونو څخه به اجبارې توګه اخراج شوي دي. لکه څرنګه چې د سرحدي عبوري نقطو کې ثبت شوې، د ۲۰۱۵ کال په لومړيو شپږو مياشتو کې له پاکستان څخه، ۹۱۴۵۸ تنه بيرته افغانستان ته راستون شوي په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې د ورته مودې په جريان کې کابو ۲۱۸۶۶ وګړي راستون شوي وو. په مجموعي ډول، د ۲۰۱۵ کال په لومړۍ نيمايي کې د ايران څخه ۲۴۳۱۰۷ افراد بيرته راستون شوي يا اخراج شوي، په داسې حال کې چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په جريان کې، دا شمير ۲۲۰۵۶۴ ته رسيدلی و. له پاکستان څخه راستنيدنه د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ۴۱۸ سلنه ډيروالی ښيې. له پاکستان څخه راستنيدونکي ډيری افغانانو له ۱۵څخه تر ۲۵ کلونو پورې له افغانستان څخه بهر تير کړي دي. د UNHCR د داوطلبانه راستنيدنې برنامو له لارې د راستنيدو کچه د پام وړ لوړه شوې، چې د ۲۰۱۵ کال د جنوري ۱ او جون ۳۰ ترمنځ، شاوخوا ۴۳۶۹۵ وګړي بيرته راستون شوي (چې ډيری يې له پاکستان څخه دي)، په داسې حال کې چې د ورته مودې لپاره په ۲۰۱۴ کې، شاوخوا ۹۳۶۴وګړي افغانستان ته راستون شوي وو. د راستنيدونکو ځارنې نظريات د تورونو په اړه، کوم چې پاکستان پر کډوالو فشار راوړي چې بيرته راستون شي، انديښنې راپورته کوي.

۴۴. ملګري ملتونه او د هغې همکاران د پاکستان څخه د ۲۱۷۰۰۰ کډوالو غوښتنو ته ځواب وايي چې په شمالي وزيرستان کې د پوځي عملياتو څخه وروسته د افغانستان سويل ختيځ ته کډه شوي دي. په لويه کچه د مهاجرو بيرته راستنيدو تمه په ۲۰۱۵ کې نه کيږي، لکه څنګه چې د مهاجرو لخوا د انتقالي سرپناو جوړولو او د کورنيو سره مشورې څخه څرګنديږي چې دوی تمه کوي له دوه څخه تر دريو کلونو کې بيرته افغانستان ستانه شي. د پام وړ تشې لاهم د محدود تمويل له امله، په ځانګړي توګه د خواړو توکو کموالي، او په پايله کې، اوس مهال کډوال ۳۰ سلنه معياري خواړه لاسته راوړي.

۴۵ . د جنوري له ۱ څخه د جولای تر ۳۱ پورې، د بشري پيښو اړوند کارمندانو ، شتمنيو او تاسيساتو او د صحي خدماتو پروړاندې سرغړونې د امنيت پيښو مقدار د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله ډير شوی، په کوم کې چې ۱۴۰ پېښې ثبت شوي دي. پدې کې د جون په ۲ د بلخ په ولايت کې د نهه مرستندويه کارمندانو وژنه او د می په ۱۳ په کابل کې د پنځه محلي او دوه نړيوالو غير دولتي سازمان کارمندانو وژنه شامل وو. سربيره پردې، د ۲۰۱۵ کال په لومړيو ۷ مياشتو کې ۲۸ مرستندويه کارګران ټپيان او ۹۰ تنه تښتول شوي دي. د جولای په ۲ ، د کندز يو روغتون د غير دولتي موسسې په ملاتړ د لنډ مهال لپاره وتړل شو کله چې امنيتي ځواکونو په روغتون بريد وکړ او داسې وييل کيږي چې د پلټنې پرمهال يې طبي کارکوونکو ته ګواښ وکړ. دغه بريد د يو مشکوک شورشي لپاره چې په روغتون کې د درملنې لاندې نيول شوی و، ترسره شو.

۴۶.	د جون په ۳۰ ، د مالي تعقیب خدماتو اداري ووېل، ټولې بشري مرستې ۱۹۷ ملیون ډالرو ته ورسیدې، چې له هغې څخه ۱۲۴.۳ ملیون ډالر د بشردوستۍ د پلان په چوکاټ کې فعالیتونو لپاره او ۷۲.۷ملیون ډالر د نورو تمویل (د بیلګې په توګه، د سره صلیب او سرې میاشت نړیوال غورځنګ) لپاره اختصاص شوي. د ۲۰۱۵ کال د بشردوستانه غبرګون پلان نیمايي کال بیاکتنه کې د ۴۱۷ ملیون ډالرو تعدیل تمویل اړتیا شامله ده، چې د مهاجرینو او بیرته راستنیدونکو اړتیاو پراساس تنظیم شوې، چې دغه رقم د ۴۰۵ ملیون ډالرو څخه لوړه شوې. سربیره پردې، د بشردوستۍ کلستر سیستم په خپلو موجوده ستراتیژیو کې سرچینې له سره اولویت بندي کوي چې د جګړو له امله بې ځایه شوي خلکو او د ژوند ژغورنې خورا مهم اړتیاوې په ګوته کوي. د جولای په پیل کې، د بیړنی غبرګون همغږي کونکې د مرکزي عاجل غبرګون وجهې صندوق له مخې افغانستان ته ۸ ملیونه ډالر تخصیص کړل. دا تمویل ته لومړیتوب ورکړل شوی ترڅو د نوي بې ځایه شوي خلکو سمدستي اړتیاو لپاره مرستې برابرې کړي چې په ۲۰۱۴ کې د بې ځایه کیدو څخه د شخړو او بې ځایه شوي اړتیاو له امله رامنځته شوي دي.

## VI.	نشه يي توکو پر ضد مبارزه

۴۷. د	جون په ۲۳ ، د نشه يي توکو پروړاندې د مبارزې وزارت د ملګرو ملتونو په همکارۍ د افغانستان د مخدره توکو د راپور ورکولو سیستم په لاره واچاو. د مخدره توکو پروړاندې وزارت یاد سیستم د مخدره توکو پروړاندې مبارزې کې د مشرتابه او همغږۍ رول کلیدي برخې په توګه ګڼي، هغه په ګوته کوي چې دا د ټولو اړوندو وزارتونو او نړیوالو ملګرو څخه تایید شوي معلومات راټولوي چې د مخدره توکو ضد نوښتونو کې دخیل دي. په ورته ډول، یاد سیستم به په افغانستان کې د مخدره توکو پورې اړوند ټولو موجود شاخصونو ته د وروستي معلوماتو لاسرسی، د تخریب، کښت، د مخدره توکو نرخونه، د درملنې ظرفیت، حبس، د معیشت بدیل او ضبط پشمول چمتو کړي ترڅو د اړوندو تحلیلو، د پالیسۍ ودې او ارزونې په موخه د هغو معلومات څخه ګټه واخیستل شي.

۴۸.	په ۲۰۱۵ کال کې د تریاکو کښت کلنۍ دورې په پای کې، په ولایتونو کې ټولټال د ۳۷۶۰ هکتاره کوکنار کښت د والي په مشرۍ د کنټرول برنامې له مخې تثبیت شوی و. دا د ۲۶۹۲هکتارو څخه ۴۰ سلنه زیاتوالی استازیتوب کوي چې د نوښت سره سم په ۲۰۱۴ کې له منځه وړل شوی. د مې له میاشتې راهیسې ، دوه کسان د کوکنارو اړولو عملیاتو پرمهال ټپیان شوي دي. د ۲۰۱۴ کال د کوکنارو د له منځه وړو مودې سره په پرتله، په ټولیز ډول امنیتي پیښو کې کموالی راغلې چې علت يې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې وزارت او د دفاع او کورنیو چارو وزارتونو تر منځ د همغږۍ هڅې ګڼل شوي. دغه ډول هڅو د کوکنارو اړولو ته اجازه ورکړې چې د نظامي عملیاتو په څنګ کې ترسره شي، چې پایله يې د لمنځه وړو عملیاتو په وړاندې لږ مقاومت شوی.

۴۹.	د مې د ۱۰ نیټې څخه تر اګست ۱۲پورې، د افغانستان د قانون پلي کونکو ادارو د مخدره توکو پروړاندې ۷۳۵ عملیات ترسره کړي، چې په پایله کې يې شاوخوا ۱۶۱۶۱ کیلوګرامه نیشه يي توکي نیول شوي، چې د ۲۰۱۴ کال د ورته مودې په پرتله، نشه يي توکو ضبط ۲۰۱۵ کې کم شوي. په یاد ضبط کې ۱۹۱۱ کیلو هیروبین، ۸۱۴۲ کیلوګرامه تریاک، ۶۱۰۴ کیلو ګرامه چرس او ۴ کیلو ګرامه میتامفیتامین، شامل دي. سربیره پردې، ۳۷۲ کیلو ګرامه جامد کیمیاوي توکي او ۷۴ لیتره مایع کیمیاوي پریکرسرونه نیول شوي دي. د عملیاتو په پایله کې ۷۷۷ شکمن کسان نیول شوي او ۱۴۹ موټرونه او ۵۹ میله وسلې ضبط شوي دي. یاد ضبط او نیوې پیښو څخه خالي نه وې، په دې معنی چې، په عملیاتو کې د امنیت ځواکونو دوه غړي وژل شوي. د پام وړ نیونې د افغانستان په نړیوال هوای ډګرونو کې ثبتې شوې، د قانون پلي کونکو ادارو په ټوله موده کې په مجموعي ډول ۲۵ کیلوګرامه مخدره توکي د ۲۵ د ضبط موارد، راپور ورکړي.

## VII. د ماموریت ملاتړ

۵۰. یوناما په ټول هیواد کې د ماموریت له مخې فعالیتونو د ودولو لپاره د عملیاتي سرچینو بیاکتنې او تنظیم ته دوام ورکړ. د راپور ورکونې دورې په جریان کې د Umoja سرچینې پلان کولو پروژې راتلونکې مرحلې ته د چمتووالي دوام لري. د کارمندانو لپاره د روزنې او ظرفیت جوړونې فعالیتونه د کویت ګډ ملاتړ دفتر سره په نږدې مشورې کې د چمتووالي برخې په توګه ترسره شوي.

## VIII. ملاحظات

۵۱. د تیرو دریو میاشتو په جریان کې، حکومت د مخ په زیاتیدونکې سیاسي ، اقتصادي او امنیتي ننګونو ته د رسیدګۍ لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکړ. زه د حساب ورکونې وده او د اداري فساد له منځه وړلو لپاره د ملي یووالي حکومت هوډ هرکلی کوم، کوم چې د مالي ثبات او د متوازن اقتصادي ودې په لور اوږد مهاله لاره رامنځته کولو کې مرکزي ونډه ولري. د افغانستان په اړه د لندن په کنفرانس کې د اصلاحاتو اجنډا پلي کولو لپاره ګامونه پیل شوي، د دولت لخوا د عوایدو ټولولو او تدارکاتو کې د اصلاحاتو، د اداري فساد ضد اقداماتو ته وده ورکولو، د دولتي معاشونو منطقي کولو او د پانګوونې فضا ښه کولو هڅو کې پرمختګ راپور شوی. دولت د خپل ځان بسایني او ودې د اهدافو ملاتړ لپاره د اصلاح او پراختیا پالنونه چمتو کوي، په شمول د دوه اړخیز حساب ورکونې چوکاټ چې د دې پلانونو مهمې برخې تشکیلوي چې د راتلونکې پراختیایي وزیرانو کنفرانس ته لارښود لپاره تمرکز کوي. لکه څنګه چې حکومت خپله اجنډا سره پرمخ ځي، د رهبري لپاره به دا مهم وي چې د خصوصي سکټور او مدني ټولنې سره کار وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې د دې ټولو وګړو په ځانګړې ډول ترټولو زیان منونکو وګړو حقونه او اړتیاوې، د دې اصلاحاتو پروسې په جریان کې خوندي پاتې شي او ورته رسیدګې کیږي. زه د لوړ پوړو چارواکو غونډې هرکلې کوم، کوم چې حکومت او د هغه نړیوال ملاتړ کونکو ته د دوه اړخیز هوکړه لیک معیارونو ژمنې نوي کولو او د مرستې ډیر اغیزمن کارونې ته وده ورکولو لپاره زمینه چمتو کړی.

۵۲. د ټاکنیزو اصلاحاتو ځانګړي کمېسیون د کار پیل د افغانستان د ټاکنو پروسو او خلکو باور لا ښه کولو په اړه یو بل مهم ګام دي چې د ولسمشر غني او اجرائیه رییس عبدالله لخوا د ۲۰۱۴ کال په سپټمبر کې د حکومت د جوړیدو څخه وروسته واخیستل شو، ترڅو خپلې ژمنې پوره کړي. همدا راز، د یاد کمېسیون جوړول به د انتخاباتي پروسو د بهتر کیدو لامل شي او عامه باور به زیاد کړي. د کمېسیون غړي د همکارۍ په روحیه د یو شمیر انتخاباتي ننګونو ته د رسیدګۍ لپاره جدي هڅه کوي.

۵۳. په هرصورت، یو شمیر با نفوذه افغانانو په عامه توګه د حکومت لخوا د تعقیب شوې لارې په اړه خپله اندیښنه څرګنده کړې. په دولت کې دننه سیاسي اختلافات او د سیاسي بانفوذه اشخاصو سره د حکومت اختلافات به ددې سبب شې تر څو د حکومت ظرفیت وننګول شي چې وخت په وخت تصمیمونه ونیسي او اغیزمن اصلاحات پلي کړي. په هرحال، زه خوشحاله کیږم چې اورم چې د ملت ګټو لپاره د لا ډیر رغنده اقدامات ترسره کیږي. زه ټولو سیاسي مشرانو څخه غوښتنه کوم چې د انفرادي توپیرونو څخه ځان خلاص کړي او د ملي یووالي په روحیه کې دې ګډې ننګونې سره مقابله وکړي.

۵۴. دغه رغنده تګلاره اړینه ده چې په هیواد کې د شخړې شدت د کمیدو کومې نښې نه ښیي او امنیتي چاپیریال خورا خراب او متحرک شوی دی. د دولت او وسله والو ډلو تر منځ شخړې د داعش او طالبانو ، او د طالبانو په تحریک کې د مشرتابه د کړکیچونو دوامداره راپورونو په شمول، د جګړو د روند وړاندوینې کې ننګونې ډیرې کړې دي. په ورته وخت کې، جګړه د هیواد په شمالي ولایتونو کې لاهم پراخه کیږي او په کابل کې یو لړ بریدونه شوي دي. پدې چاپیریال کې، افغان امنیتي ځواکونو د دوامداره فشار لاندې په زړورتیا او هوسایېنې سره خدمت کړی. د افغان امنیتي ځواکونو سره د ننګونو سربیره ، زه د ناامنیو په وړاندې د مبارزې لپاره د حکومت پلوه ملیشو د نوي تاسیساتو او تقویت د زیاتو غوښتنو او نښو په اړه اندیښمن یم. پداسې حال کې چې دا د پوهیدو وړ ده چې ځايي ټولنې د امنیتي ځواکونو ملاتړ ته هڅول کیږي، وسله والې ډلې په مستقیم ډول دولت

ته حساب ورکونکي نه دي، د هیواد امنیت لپاره اوږدمهاله ننګونه منځ کولای شي. زه له حکومت څخه غوښتنه کوم چې د خپلو ملي امنیتي ځواکونو د ظرفیتونو لوړولو لپاره د خپلو هڅو تمرکز وساتي، کوم چې به ټولو افغانانو ته خدمت او حساب ورکونکي وي او د دوی له بشپړ ملاتړ څخه به برخمن شي.

۵۵. زه د روژې په مبارکه میاشت کې د دوامداره شخړې یو لړ کړنو وروسته، په عادي افغانانو باندې د شخړې دوامداره اغیزو په اړه ژوره اندیښنه لرم. په ملکي خلکو باندې د بلواګرو د بریدونو تاثیر، په ځانګړې توګه په ښاري سیمو کې، د دولت ضد عناصرو لخوا د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د عامه اعلامیېو سره په ټکر کې دي. زما د بیانیې سره سم د جولای په ۱۴په خوست، بغلان او کابل کې د یو لړ بریدونو وروسته، په عامه ځایونو کې د داسې ناوړه بریدونو لپاره هیڅ توجیه کیدلی نشي، چیرې چې قربانیان په عمده ډول اغیزمن کیږي. په کابل کې د اګست په ۷ برید ځپونکي بریدونه پدې وروستیو کې پدې ښار کې ترټولو لوی تلفاتو لامل شوي او د خلکو عامه قهر یې راپارولی.

۵۶. شخړه د بشرپالنې فعالینو هڅې ته چې مرستې رسوي، زیان رسوي. دا اړینه ده چې ټول د جګړې څخه اغیزمن شوي بشري مرستې ته لاسرسی ولري او دا چې مرستندویه کارګران پرته له کوم تاوتریخوالي له ډار څخه کار وکړي. زه بیا د جګړو ټولو اړخونو ته یادونه کوم چې نظامي عملیات باید د نړیوال بشري حقونو او بشردوستانه قانون ته په درناوي تر سره شي او په دې برخه کې د بشپړ مطابقت غوښتنه کوم.

۵۷. په ورته وخت کې په شخړه پورې اړوند داخلي بې ځایه کیدنې او د مهاجرینو بیرته راستنیدو کې زیاتوالی د بشردوستانه او ټولنیز اقتصادي ننګونو وړاندې کوي. د بیرته راستنیدو او بیرته راستنیدو پروسې مدیریت او د بې ځایه شویو خلکو بیړنۍ اړتیاوې پوره کولو لپاره د دولت او د دې ملي او نړیوالو ملګرو لخوا هڅو هرکلی کیږي. زه تمویل کوونکي هڅوم چې ډاډ ترلاسه کړم چې د تمویل تشې ډکې شوې دي او دا مرستې اړمنو خلکو ته شتون لري.

۵۸. د ملا عمر د مرګ اعلان د روغې جوړې لپاره څرګندې پایلې لري، ځکه چې د اعلامیې په تعقیب د طالبانو د یووالي په اړه پوښتنو هم د سولې له پروسې سره د هغې د ژمنې په اړه شکونه زیات کړي دي. د خبرو دویم پړاو ځنډول بې له شکه یو خنډ و، خو د سولې پروسې په ندرت سره په عمودي ډول پرمخ ځي. زه د طالبانو اړتیا بیا ټینګار کوم چې با صلاحیته استازي په ټاکلو سره سولې ته لاره غوره کړي ترڅو له حکومت سره مستقیمې خبرې بیا پیل کړي. د خبرو اترو له لارې لاسته راغلی سوله ایز سیاسي جوړجاړی د افغانستان راتلونکي لپاره اړین دی.

۵۹. د سولې یوه بریالۍ پروسه باید ټول شموله وي. بحثونه باید د ټولنې په ټولو برخو کې وشي او دا عامه بحث باید د سیاسي مشرانو تر منځ د خبرو لارښود او ملاتړ وکړي. هغه نوښتونه چې بحث هڅوي او شمولیت هڅوي، لکه د افغانستان د خلکو خبرې او د ښځو او سولې او امنیت په اړه ملي عمل پلان، مهم دي. زه د ولسمشر غني د هغه ژمنې هرکلی کوم، چې د پلان په لاره اچولو کې شوی، ترڅو د سولې په پروسه کې د میرمنو برخه اخیستنه یقیني او د پلان مفاد په بشپړ ډول پلي شي.

۶۰. د افغانستان او پاکستان حکومتونو په مسایلو باندی بحث ته دوام ورکړ او پداسې حال کې چې د راپور ورکولو په موده کې یاده اړیکه له ننګونو سره مخ و، داسې نښې شتون لري چې دواړه هیوادونه د اعتماد د رامنځته کولو هڅې کوي. د جولای په اوومه د مری خبرو د دواړو ګاونډیو اړیکو او د افغانستان د سولې په پروسه کې یو مثبت ګام و، پاکستان د کوربه په توګه رغنده ملاتړ کوونکی رول ولوباوه. دې پېښې هغه پرمختګ روښانه کړ چې د مثبت، سیمه ایزې ښکیلتیا له لارې رامنځته کیدی شي. په هرصورت، وروسته پرمختګونو دوه اړخیزې اړیکې ترینګلې کړې او د هیوادونو تر منځ د سیمه ییزې اغیزمنې ملګرتیا د رامنځته کیدو خطر کموي. په کابل کې د اګست په ۷ برید وروسته په افغانستان کې نارضایتي منځ ته کړه، د اګست په ۱۳ مه اسلام آباد ته د لوړ پوړو افغان چارواکو لیدنې د امنیتي ننګونو په حل کې د برابر شریکانو په توګه کار کولو ته د ګډې ژمنې ټینګار وکړ. زه د افغانستان او پاکستان له حکومتونو څخه غواړم چې خپلې هڅې دوه چنده کړي ترڅو د امنیت همغږي کولو

مسلې په اړه ګډ دریځ ومومي او نور هم ومونډل شي چې څنګه کولای شي د افغانانو په مشرۍ او مدیریت لاندې د سولې پروسې څخه ملاتړ وکړي.

۶۱. د امنیت شورا غوښتنې ته په پام سره چې زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو سازمانونو د رول، جوړښت او فعالیتونو یوه بررسي ترسره کړم، زه خوښ یم چې د حکومت د استازو په ګډون د دریې اړخیز کمېسیون د کار د وخت بشپړیدو راپور ورکوم چې نړیوالې مرستندویه ټولنه، یوناما او د ملګرو ملتونو اداري ، مالی صندوقونو او پروګرامونو څخه تشکیل شوی و. دا پروسه د ټولو غړو لپاره یو ګټور فرصت و چې په پام کې ونیسي او مهم اړخونه روښانه کړي چې ملګري ملتونه څنګه په افغانستان کې کار کوي، چې له امله یې کار او جوړښتونو سمون ومومي. دا زما تمه ده چې راپور او د کمېسیون وړاندیزونه به د ۲۰۱۶ کال په پیل کې د شورا د معلومات لپاره د بحثونو په موخه وړاندې شي.

۶۲. په پای کې، زه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو له ټولو کارکوونکو او زما ځانګړي استازي، نیکولاس هیسم، څخه مننه کوم چې د ننګونو لاندې شرایطو کې یې د دوامداره ، سوکاله او ثبات لرونکي افغانستان ملاتړ لپاره خپلې هڅې جاري ساتلي دي.